HAIAN FOUNDATION

INSPIRED

# ماهنامه حراء
# Monthly Hera
# میاشتنی




- حج: بزرگترین تجمع مسلمانان جهان
- قرباني او د هغه مهم احکام
- نگاهی به کتاب صحیح البخاری

- The Essence of Sacrifice in Islam
- Lessons from the Battle of Badr – The Importance of Iman


Contact us:
+44 7459 561846

Office:
HomeFix Extra
336-340 High Road
Harrow Weald,
HA3 6HS

ماهنامه
حراء
Monthly
Hera
میاشتنی
ماهنامۀ تربیتی، علمی و دینی

یکشنبه د ۱۴۰۲ هـ ل د د جوزا۱۵مه د ۱۴۴۴ هـ ق د ذوالقعدي۱۷مه، د ۲۰۲۳ د جون ٥ مه خلورم کال٦مه گڼه

HAIAN FOUNDATION
Registered Charity
in the UK
Reg No: 1145407

## ده روز ذی الحجه

از ابن عباس رضي الله عنهما روايت است که فرمود: رسول الله ﷺ فرمود: «هيچ ايامي نيست که نزد الله سبحانه و تعالي عمل صالح محبوبتر از اين ايام باشد» گفتند: و نه حتي جهاد در راه الله؟ فرمود: «ونه جهاد در راه الله مگر شخصي که با جان و مال خود خارج شود و هيچ کدامشان را برنگرداند».

سرمقاله

## حج: بزرگترین تجمع مسلمانان

جمع شدن مسلمین در یک زمان و در یک مکان از انحاء عالم برای شکستن بت های بشری و غیر بشری، نماد تمدن جهانی و وحدت مسلمین، اجتماع رفع تبعیض و تمایز، دیدگاه عمومی منافع انسان ها در روی زمین یعنی حج زیارت بیت الله الحرام، بمصداق ایه ۹۷ سوره مائده( جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ) حج یعنی قوام بشریت در بالای کره خاکی. وختم این مراسم مساوی با ختم انسان های روی زمین هست. خانه که دل های عشاق و تشنگان الله را بسویش میکشاند، قلب های که ندای خلیل الله را شنیدند و گفتند لبیک اللهم لبیک، لبیک لا شریک لک لبیک ان الحمد والنعمه لک والملک لا شریک لک . در حج مشاهده عملی منافع اخروی و دنیوی مسلمین هست . فراخوان ابراهیمی برای عبور از خرافات و باورهای غیر عقلانی و منطقی که انسان ها را دچار سردرگمی نموده است و از خط اصلی انسانیت و انسان دوستی، حقوق بشری و همکاری ، تعاون و تکافل دور داشته است. حج زمان جوشش درونی انسان به سوی الله هست، همه دویدن ها، جوشیدن ها، خروشیدنها، نشستن ها و برپاخیستن های مخلصانه بند گان الله برای الله تحت فرمان الله هست.

حج رکن پنجم دین اسلام هست و مسلمین دراین روز جشن دارند و به عبادت و قربانی روزهای خویش را همراه مهمانان سپری مینمایند. دسترخوان میوه خشک، میوه تازه و میزبانی را پهن مینمایند و به تمام کینه ها، فاصله ها، عقده ها، دشمنی ها، غیبت ها وبگو مگوهای شیطانی نه میگویند با محبت کامل همدیگر را به اغوش میگیرند و اخوت و برادری را دوباره تجدید و تحکیم میبخشند.

حج فرصتی برای رسیدن به کمال معنوی هست، زمانیست برای دوری از زیرو و الایش، تجملات و لباس های مادی روزو درنهایت حج یعنی عبور از من من بودن و ما شدن و درسی هست برای شکستن زنجیرهای اسارت .

در این شماره میخوانید:

| | |
|---|---|
| حج: بزرگترین تجمع مسلمانان جهان | ۱ |
| قرباني او د هغه مهم احکام | ۲ |
| نگاهی به کتاب صحیح البخاری | ۴ |
| فانوس ادب | ۵ |
| Essence of Sacrifice in Islam | ٦ |
| Lessons from the Battle of Badr... | ۷ |

تاسو کولی شئ حرا مجله له لاندې ادرسونو څخه لاس ته راوړئ

**London:**

- Value 4 Money, 66 Golden Green Rd, London NW11 8LN
- Max Savers, 8082- High Street EN8 7BU
- HomeFix Extra,336340- High Road, Harrow Weald, HA3 6HS
  Mob: 07459561846

**Manchester:**

Kamal Exchange, m10&13 salad lane, Longsight, Manchester 13 0QE. Mob: 7988807237

# قرباني او د هغه مهم احکام

پوهندوی مفتي عبدالواسع صابر

د الله عزوجل د رضا او قربت د ترلاسه کولولپاره په یو خاص او ځانګړي وخت خصوصا په ایام النحر او د لوی اختر په ورځو کې د یو څاروي او حیوان ذبح کولو ته قرباني یا اضحیه ویل کیږي.

د هجرت په دویم کال کې د قربانۍ کولو حکم ورکړل شو، ددې مشروعیت په قرآن مجید، نبوي سنتو اود امت په اجماع سره ثابت دی.

په قرآن مجید کې داسې فرمایل شوي : فصل لربک و انحر (الکوثر ۳).

په نبوي حدیث کې داسې فرمایل شوي دي:(ما عمل ابن آدم یوم النحر عملا احب الی الله تعالی من اراقة الدم) الحاکم ترمذي و ابن ماجه (نیل الاوطار ج ۲ صفحه ۱۰۸) په بل نبوي حدیث کې داسې راغلي دي (ضحی رسول الله صلی الله علیه وسلم بکبشین املحین...) (نیل الاوطار ج۵ صفحه ۱۱۹ او ۱۲۱)، او د ټول اسلامي امت په دې باندې اجماع ده چې قرباني (اضحیه) شرعي عمل دی.

**د قربانۍ حکم:**

الف: امام ابوحنیفه (رح) قرباني واجب بولي او د لیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مبارک حدیث دی کوم چې ابوهریره روایت کړی، امام احمد (رح) او ابن ماجه (رح) په خپلو کتابونو کې رانقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (من وجد سعة فلم یضح فلا یقربن مصلانا) (نیل الاوطار5 جلد ۱۰۸ صفحه) (څوک چې وسه او توان لري او بیا هم قرباني نه کوي هغه دې زمونږ لمانځه ځای (عیدګاه) ته نه حاضریږي).

ب: له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه پرته نور فقهاء او مجتهدین قرباني سنت مؤکد بولي او توان لرونکي ته یې نه کول مکروه ګڼي، د دوی دلیل هغه نبوي حدیث دی چې ابن عباس رض روایت کړی هغه وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې فرمایل یې: (ثلاث هن علی فرائض و هن لکم تطوع: الوتر، والنحر و صلاة الضحی) (احمد، الحاکم، دارقطنی) (درې کارونه په ماباندې فرض خو ستاسو لپاره تطوع دي: وتر، قرباني او د ځاښت لمونځ).

همدارنګه امام ترمذي رحمه الله قرباني د ټول فامیل لپاره سنت کفایي بولي او دلیل یې هغه نبوي حدیث دی چې مخنف بن سُلیم رض روایت کړی: مونږ د رسول الله (ص) سره وو چې هغه داسې وفرمایل: (علی کل اهل بیت في کل عام أضحیة) (احمد، ترمذي او ابن ماجه، نیل الاوطار: ۵ جلد، ۱۲۰ صفحه). (ای خلکو! په هر کال کې په هره کورنۍ باندې یوه قرباني ده).

رسول الله (ص) به دوه ښکرور او چاغ پسونه قرباني کول یو د خپل امت له لوري او بل د خپل ځان او اهل له لوري (ابن ماجه عن ابی هریره و عائشه رضی الله عنهما).

**د قربانۍ ډولونه:**

الف: احناف قرباني په دوه ډوله بولي (البدائع: ۵ جلد، ٦١، ٦٣ او ۷۸ صفحات، الدر المختار: ۵ جلد ۲۲۲ صفحه).

۱: واجب ۲: تطوع

۱: واجب: هغه قرباني ده چې چا په ځان نذر منلی وي که هغه شتمن وي او که غریب یا دا چې کوم فقیر او غریب څاروی د قربانۍ په نیت واخلي نو په ده باندې هم قرباني واجب شوه، بل په مالدارو او شتمو خلکو په لوی اختر کې د الهي نعمونو د شکرانې، د ثوابونو او اجرونو د ترلاسه کولواو د سیدنا ابراهیم علیه السلام د میراث راژوندي کولوپه خاطر.

۲: تطوع: د مسافر او فقیر لپاره قرباني کول تطوع او نفل ده.

ب: مالکیه وایي چې قرباني یواځې په ذبح کولو واجب ګرځي او په نذر باندې واجب نه ګرځي بلکې سنت مؤکد ده ( الشرح الکبیر وحاشیة ۲ جلد، ۱۲۲ او ۱۲۵ مخ)

ج: شافعیه او حنابله وایي چې په نذر منلو سره قرباني واجب ګرځي چې ووایي دا په ماباندې د الله په خاطر نذر دی او یا به داپسه او سېرلې د الله لپاره ذبح کوم او که نذر نه وي منلی شوی بیا قرباني واجب نه ګرځي (مغني المحتاج ۴ جلد، ۲۸۳ او ۲۹۱ صفحات، المغني ۸ جل ۷۲۷ صفحه).

**د قربانۍ شرطونه:**

د قربانۍ شرطونه درې دي:

لومړی: د وجوب او سنت والي لپاره شرط:

الف: د احنافو په نزد د قربانۍ د وجوب او د نورو امامانوپه نزد د سنت والي لپاره شرط په قربانۍ اخستلو باندې قدرت او توان لرل دي، په فقیر او بېوزلي باندې قرباني نشته، احناف وایي چې په هغه چا قرباني واجب ده چې دوه سوه درهمه یعنې د زکات د نصاب په ندازه مال او یا همدومره نور شیان ولري پرته له کوره، لباسه او سامان څخه (الدرالمختار: ۲۲۲ صفحه).

ب: مالکیه وایي چې که د قربانۍ اخستلو لپاره ورسره مال او سرمایه وي او په کال کې د کوم ضروري کار لپاره هغې ته اړتیا اواحتیاج و نه لري نو بیا د قدرت او توان څښتن دی (شرح الرساله لابن ابي زید القیرواني ۲ جلد ۳٦۷ صفحه).

ج: شافعیه وایي چې څوک د قربانۍ د اخیستلو توان او وسه لري او په کور کې دومره نور مال او سرمایه هم ورسره وي چې د اختر او ایام تشریق مصرف یې پرې پوره شي په داسې کس باندې قرباني کول سنت مؤکد دي (حاشیة الباجوري: ۲ جلد ۳۰۵ صفحه).

د: حنابله وایي که څوک د قربانۍ د اخستلو لپاره مال او سرمایه ولري اګر که قرض هم وي خو چې بیا د قرض خلاصولو توان ولري، په هغه باندې قرباني کول سنت مؤکد دي ( کشاف القناع: ۲ جلد ۱۸ مخ.)

دوه یم: د قربانۍ د صحیح والي شرطونه (البدائع ۵ جلد، ۷۳ او ۷۵ مخ، مغنی المحتاج ۴ جلد ۲۸٦ مخ، القوانین الفقهیة ۱۸٦ مخ)

۱ - د قرباني کېدونکي څاروي صحت او سلامتیا:

کوم څاروی چې قرباني کیږي په هغه کې باید غټ او لوی عیبونه شتون و نه لري چې د هغې د غوښې خوړل روغتیا او صحت ته زیان رسوي چې په هغه عیبونو کې ۴ یې د ټولو په وړاندې د قربانۍ په کولو کې خنډ ګرځي لکه په سترګو ړوندوالی، ښکاره او څرګنده ناروغي، ګوډوالی او ډنګروالی (اصحاب السنن و احمد عن براء بن عازب رض، نیل الاوطار ۵ جلد ۱۱۵، ۱۱۷ مخ).

۲ - خاص اوځانګړی وخت:

د قربانۍ لپاره د خاص او ځانګړي وخت په هکله لاندې نظریات شتون لري:

الف: احناف د قربانۍ لپاره د ذي الحجې لسمه ورځ د یوولسم شپه او ورځ، د دولسمې ذوالحجې شپه او ورځ یعنې درې ورځې او دوه شپې، او په دیارلسمه شپه باندې قرباني نه کېږي همدارنګه په شپه کې قرباني کول مکروه تنزیهي دي.

ب: مالکیه وایي چې قرباني یواځې په ورځ کې صحیح ده، د شپې قرباني نه صحیح کېږي، او ورځ د لمر ختلو څخه پیل کیږي، خو د اختر په لومړۍ ورځ له لمانځه کولو څخه وروسته قرباني کول صحیح او مخکې صحیح نه دي.

مالکیه د قرباني د کوونکو لپاره دوه نور شرطونه هم وړاندې کړي دي:
۱: د ذبح کونکي اسلام: څوک چې قرباني ذبح کوي هغه باید مسلمان وي د کافر او کتابي حلاله او ذبح صحیح نه ده ځکه دا عبادت د قربت الله لپاره کېږي خو که د مسلمان په نیابت یې ذبح کړي جواز لري خو له کراهیت سره (الشرح الصغیر، ۲ جلد ، ۱۴۱ مخ).
۲: د قربانۍ په قیمت کې شراکت جواز نه لري: مالکیه وایي چې پرته له خپلو خپلوانو او په یو کور کې د اوسېدونکو څخه د بل چا سره په قربانۍ کې شراکت جواز نه لري، په اوښ، غوا او غویي کې اووه تنه او په اوزه او پسه کې یو کس.
د مالکیه څخه پرته نور په اوښ، غوا، غوایي کې د شراکت او ګډون جواز ورکوي خو چې له اووه تنو څخه زیات نه وي که کم وي باک نشته (المغني ۸ جلد، ۱۸ مخ، مغني المحتاج: ۴ ج ۲۵۸ مخ).
دریم: په قربانۍ باندې د مکلف شخص شرایط:
ټول فقهاء په دې خبره همغږي او متفق دي چې قرباني کوونکی به مسلمان، آزاد، بالغ، عاقل، مقیم او توان لرونکی وي (اللباب: ۳ جلد، ۲۳۲ مخ، مغني المحتاج ۴ جلد ۲۸۳ مخ).

**د کوچني (صغیر) او مسافر په هکله لاندې نظریات شتون لري:**

الف: احناف وایي چې په مسافر باندې قرباني واجب نه ده، ځکه چې سیدنا ابوبکر صدیق (رض) او عمر (رض) په مسافرۍ کې قر باني نه کوله او سیدنا علي رضي الله عنه فرمایي چې په مسافر د جمعې لمونځ او قرباني نشته (الدر المختار ۵ جلد، ۲۲۲ صفحه، نصب الرایة ۴ جلد ۲۱۷ مخ).
د صغیرد قربانۍ په هلکه د امام ابوحنیفه (رح) او امام ابویوسف (رح) نظر دا دی چې د هغه د خپل مال څخه دې قرباني وشي او دا پرې واجب ده که چېرې مالداره او شتمن وي خو د امام محمد حسن شیباني (رح) او امام ذفر (رح) رایه دا ده چې د صغیر له مال څخه به ولي او سرپرست قرباني نه کوي بلکې له خپل مال څخه به یې کوي او همدا د احنافو مفتی به قول دی (الدر المختار: ۵ جلد ۲۲۲ صفحه).
ب: شافعیه او حنابله وایي چې قرباني په هر مسلمان سنت مؤکد ده، که مسافر وي که حاجي وي او که بل، ځکه چې رسول الله (ص) په منی کې د خپل لوري او خپلو مېرمنو له لوري په غوایي باندې قرباني وکړه (بخاري او مسلم).
نو ځینې شافعیه وایي چې په حاجي باندې قرباني نشته، بلکې هغه هدي ده نه اضحیه.
شافعیه او حنابله په صغیر باندې قرباني کول سنت نه بولي. (مغني المحتاج: ۴ جلد ۲۸۳ صفحه، کشاف القناع: ۳ جلد ۱۷ مخ).
ج: مالکیه وایي چې قرباني په هر مکلف او شرایطو برابر مسلمان باندې سنت ده، که هغه مسافر وي او که مقیم وي (الشرح الکبیر ۲ جلد، ۱۱۸ مخ، بدایة المجتهد ۲ جلد ۴۱۵ مخ) همدارنګه مالکیه په مالدار صغیر باندې هم قرباني سنت بولي.

**په قربانۍ کې نیت:**

څرنګه چې د هر عمل ثواب او سموالی په نیت پورې تړاو لري، نو قرباني هم یو عبادت دی چې پرته له صحیح نیت څخه د هغې ثواب نه ترلاسه کیږي. ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( انما الاعمال بالنیات و انما لکل امرئ ما نوی) (بخاري او مسلم عن عمر ابن الخطاب رض).
احناف، شوافع او حنابله درې واړه په قربانۍ کې نیت شرط بولي ځکه چې خپله ذبح کول خو عموماً د غوښې لپاره وي، او که نیت په کې عبادت او تقرب الی الله نه وي نو بیا یواځې د قصاب په شان غوښه ده، احناف وایي چې باید د ټولو شریکانو نیت سم او صاف وي کنه بیا د یو نیت په خرابېدو د ټولو قرباني ضایع کېږي (البدائع ۴ جلد، ۲۸۳ مخ، کشاف القناع ۳ جلد ۶۸ مخ، مغني المحتاج ۴ جلد ۲۸۹ مخ، القوانین الفقهیة ۱۸۷ مخ).

**د قربانۍ حیوان او څاروی:**

۱: یواځې په اوښ، غوا، غوایي، مېښه او مېښ، پسه، مېږه، اوزه، او وزګوړي باندې قرباني کیږي. په وحشي څارویو باندې قرباني نه کیږي، ځکه نه له رسول الله (ص) او نه له صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه په دې هکله څه رانقل شوي دي (البدائع ۵ جلد ۶۹ مخ، الشرح الکبیر ۲ جلد، ۱۸ مخ، مغني المحتاج ۴ جلد، ۲۸۴ مخ، کشاف القناع ۲ جلد ۲۱۵ مخ).
۲: په قربانۍ کې د څاروي عمر هم مهم دی.
- اوښ او اوښه باید پنځه کاله پوره کړي او په شپږم کال کې ور داخله شوي وي.
- غوا او مېښې باید دوه کاله پوره کړي وي او درېیم کال ته ورداخله شوي وي.
- په پسه، مېږه، اوزه او وزګوړي کې یو کال عمر صحیح دی (البدائع، ۵ جلد، ۷۰ مخ، کشاف القناع ۱ جلد، ۶۱۶ مخ، المغني ۸ جلد ۶۲۳ مخ).
احناف، حنابله او مالکیه وایي چې که چېرې پسه شپږ میاشتې پوره کړې او په اوومه میاشت کې ور داخل وي خو د یو کلن سره په چاغوالي کې برابر ښکاري نو بیا پرې قرباني کېږي، ځکه چې رسول اله (ص) فرمایي: (یجزي الجذع من الضان اضحیة) احمد، ابن ماجه، نیل الاوطار ۵ جلد، ۱۱۴ مخ).
خو شافعیه او ځینې مالکیه بیا وایي چې په پسه کې یو کال پوره کول او په دوهم کال کې ور داخلېدل شرط دی (الشرح الکبیر: ۲ جلد، ۱۱۹ مخ، بدایة المجتهد: ۱ جلد ۱۱۹ مخ، مغني المحتاج ۴ جلد ۲۸۴ مخ، المهذب ۱ جلد ۲۲۸ مخ)

**د قربانۍ غوښه:**

په قربانۍ کې اصل شی د وینې تویول او ذبح کول دي، د غوښې خوړل، هدیه کول او صدقه کول ټول جایز دي (مغني المحتاج۴جلد ۲۹۱ مخ).
د نذر له قربانۍ څخه خپله د نذر کوونکي د غوښې خوړل د احنافو په نزد جواز نه



لري خو د مالکیه او حنابله په نزد جواز لري، د غوښې خوړل، ذخیره کول، هدیه کول او صدقه کول ټول جایز دي.
احناف او حنابله د غوښې د توزیع او ویش په هکله دا نظر لري چې باید درې برخې شي، یوه برخه دې خپله واخلي، دویمه برخه دې خپلوانو ته هدیه کړي او دریمه برخه دې فقیرانو ته صدقه کړي، او دلیل یې د قرآن مجید دا دوه آیاتونه او نبوي حدیث دی:
الف: قرآن مجید داسې(پاتې په ۶ مخ)

# نگاهی به کتاب صحیح البخاری

علاء الدین رحیق

الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رسول الله صلی الله علیه وسلّم وسننه وأیامه
محمد بن اسماعیل بخاری یکی از شخصیت های موثرو مهم جهان اسلام هست که هر مسلمان باید در مورد وی اگاهی کامل داشته باشد.
کتاب او صحیح البخاری پس از قرآن کریم از جمله شش صحیح ترین و معتبرترین کتاب های موسوم به صحاح سته حدیث اهل سنت والجماعه به شمار میرود و دراین راستا امام بخاری رحمه الله علیه زحمات زیادی را کشیده است.
صحیح البخاری در 97 کتاب و 3450 باب تدوین شده و تعداد احادیث جمع اوری شده دراین کتاب بقول ابن صلاح 7275 حدیث هست که بدون از احادیث مکرر 4000 میباشد. هر متن دینی علمی را که مطالعه کردم نقل قول حدیثی یا احادیث از این کتاب سترگ را یافتم و واقعا انسان از ان متاثر میگردد.
این کتاب را صحیح مینامند زیرا تمام احادیث نقل شده در ان از لحاظ علم اصول حدیث مستند و صحیح است و انرا جامع مینامند زیرا بین فقه و عقیده ، تفسیرو تاریخ، ادب و زهد موضوعات را ترتیب و جمع آوری نموده است.
از ویژگی های این کتاب عناوین ابواب – تراجم ابواب – هست که مشتمل بر تفسیر، تاویل و بیان احادیث مجمل هست که اکثریت انرا فقه بخاری میدانند.
او در این کتاب احادیثی را نقل نموده است که تمام سلسله روات ان ثقه هست.
محمدبن اسماعیل بن ابراهیم بن مغیره بن بردزبه از شهر بخارای کشور اوزبکستان هم مرز کشورافغانستان از کشورهای قاره اسیا میباشد.
پدرامام بخاری نیز از علمای حدیث بود و از احمدبن حنبل و حماد بن زید احادیث را روایت نموده است.
محمد بن اسماعیل بخاری در 13 شوال سال 194 هجری در شهر بخارا به دنیا امد و در سال 256 هجری قمری از دنیا وفات نمود.
و در سن کودکی یتیم از پدر گردید و مادر و برادر بزرگش به نام احمد سرپرستی او را به عهده گرفتند.
محمد بن اسماعیل از حافظه خاصی برخوردار بود، بعد از یک سال اقامت در مدینه و فراگیری علم از بزرگان، رجال و مشایخ شهر مدینه منوره و کسب فیض معنوی در مجارت روضه ان حضرت صلی الله علیه وسلم و تدوین کتاب ( التاریخ الکبیر) به سوی شهر بصره عزم سفر کرد. هدف ایشان از این سفر ملاقات و دیدار از دانشمندان دیگر جهان اسلام بود تا احادیثی را که در نزد انان موجود بود بشنود و حفظ کند. زیرا در ان زمان وسایل شریک سازی معلومات و داده ها بمانند امروز نبود و گاهی احادیثی نزد یک محدث بود که محدث دیگر از ان اطلاعی نداشت. و از طرفی احادیث صحیح و غیر صحیح نیز در بین مردم شنیده می شد.
امام بخاری که هدفی بالا و تصمیم جامع در بخش احادیث انحضرت صلی الله علیه وسلم داشت احادیثی که نزد محدثین وجود داشت را جمع اوری میکرد و به این دلیل به تعداد احادیثی که از رجال محدث شهرهای حرمین شنیده بود اکتفا ننمود و شهرهای بزرگ دیگر و شنیدن احادیث از شیوخ دیگر او را به شهرهای دیگر می کشانید. این اندیشه همه مصیبت ها ومشکلات را بر او اسان نموده بود و هیچ غم و اندوهی مانع وی نمی توانست شود. و به راستی محبت و عشق او به کسب دانش خواب و راحتی از چشمانش ربوده بود.
ان امام در جریان دروس حدیث، احادیث را حفظ مینمود و نیازی به نوشتن انها نداشت ولی زمانیکه به بخارا برگشت انچه را که حفظ کرده بود نوشت.
شهرهای مصر، شام، خراسان ان زمان، عراق سفر کرد و از هزارو هشتاد محدث روایت نموده است.
امرا و بزرگان اکثریت شهرها به وی احترام ویژه می نمودند نقل هست که محمد بن یسار در وقت حضور ان امام به شهر بصره گفت: ( سید و سرور فقها امروز به شهر بصره امده است) محمدبن بشار العبدی می گوید: ( حافظان حدیث چهار نفراند در شهر ری ابوزرعه، در شهرنیشابور مسلم بن حجاج، در شهر سمرقند عبدالله بن عبدالرحمن الدارمی و در شهربخارا محمد بن اسماعیل بخاری)
او در حالی که در اوایل جوانی بود محدثی بزرگ و استادی با معلومات زیاد به حساب می امد. منبع رجوع و بهرهمندی طلاب علم و شیوخ بزرگ زمانش بود و در جوانی به علوم حدیث انقدر ماهر و چیره شد که خیلی زیادی از شیوخ در طول عمر طولانی شان نتوانسته بودند برسند.
امام بخاری شخصیت مودب، حلیم و متقی بود کسی بود که قلم را جز در پاکی و طهارت به دست نمی گرفت و میفرمود با این قلم من کلام پاک الله یا رسولش را می نویسم. اخلاق و ادبش در برابر الله و رسولش را می توان در کتاب الجامع الصحیح او به خوبی درک کرد.
ان امام بزرگ رحمه الله علیه قبل از نوشتن کتاب الجامع الصحیح مراحل گوناگونی را پشت سر گذاشت سفرهای مداومی در گوشه و کنار جهان اسلام انجام داد تا راویان ثقه و مورد اعتماد را در یابد و او تواسنت به شش صد هزار شیخ که بین هر یک هزاران کیلومتر فاصله بود دسترسی پیدا کند.
او همه دنیا را به مثابه یک دانشگاه تصور کرد در جستجوی حدیث به هرکجا که لازم بود سفر میکرد اگر چه در این راه متحمل سختی ها زیاد شده بود و همه انها را با کمال میل تحمل می نمود.
مورخین نقل نموده اند که علت و انگیزه جمع اوری احادیث ان حضرت صلی الله علیه وسلم خواهش استاد امام بخاری اسحاق بن راهوی بوده است. وی گفت اگر شما کتاب مختصری از احادیث صحیح آنحضرت صلی الله علیه وسلم را تدوین نمایید. و این امر در قلب امام بخاری جای گرفت و وی به جمع اوری احادیث اغاز نمود.

**کتاب های مشهور که صحیح البخاری را شرح نموده اند:**

1. اعلام السنن از امام ابو سلیمان احمدبن محمد بن ابراهیم
2. فتح الباری شرح صحیح البخاری نوشته حافظ شهاب الدین بن حجر عسقلانی
3. عمده القاری فی شرح البخاری نوشته محمود بن احمد عینی
4. ارشاد الساری فی شرح البخاری نوشته احمد بن محمدبن ابی بکر قسطلانی

وفات امام بخاری: محمد بن اسماعیل بخاری بعد از سفرهای طولانی به زادگاهش بخارا بازگشت و مدتی در انجا به روایت حدیث پرداخت و احادیث صحیح را مردم از او فراگفتند تا این که مقرر گردید به شهر سمرقند برود و در میان راه در قریه خرتنگ به نزد نزدیکانش رفت و در انجا مریض شد ه و بعد از مدت کوتاهی در وقت نماز عشاء شب عید فطر سال 256 هجری دار فانی را وداع گفت. خداوند او را غریق رحمت خویش نماید و از او خشنود باشد.

# فانوس ادب

در راه خود ، اول ز خودم بی خود کن
بی خود چو شدم ، ز خود به خود ، راهم ده
الهی ، الهی یکتای بی همتایی
قیوم و توانایی
بر همه چیز بینایی
در همه حال دانایی
از عیب مصفایی
از شرک مبرائی
اصل هر دوائی
داروی دل هایی
به تو رسد ملک خدایی

خواجه عبدالله انصار

ای که در زندان غم باشی اسیر
از نبی تعلیم لاتحزن بگیر
این سبق صدیق را صدیق کرد
سر خوش از پیمانه ی تحقیق کرد
از رضا مسلم مثال کوکب است
در ره هستی تبسم بر لب است
گر خدا داری ز غم آزاد شو
از خیال بیش و کم آزاد شو
قوت ایمان حیات افزایدت
ورد «لا خوف علیهم» بایدت
چون کلیمی سوی فرعونی رود
قلب او از لاتخف محکم شود
بیم غیر الله عمل را دشمن است
کاروان زندگی را رهزن است
عزم محکم ممکنات اندیش ازو
همت عالی تأمل کیش ازو

اقبال لاهوری

# پاتې: قرباني او د هغه مهم احکام

فرمايي: (فكلوا منها و اطعموا القانع والمعتر) (الحج ٣٦).
ب: (واطعموالبائس الفقير) (الحج ٢٨).
ج: ابن عباس (رض) د رسول الله (ص) د قربانۍ په هکله داسې وايي (ويطعم اهل بيته الثلث، ويطعم فقراء جيرانه الثلث ، و يتصدق على السؤال الثلث) (رواه الحافظ ابوموسى الاصفهانى فى الوظائف و قال حديث حسن و هو قول ابن مسعود و ابن عمر بدون مخالف من الصحابه).

مالکيه وايي چې د غوښې په توزيع کې څه حکم نشته، د هر چا خوښه ده چې په خپله يې خوري، که صدقه کوي او که يې هديه کوي، د هغوی دليل د رسول الله (ص) هغه حديث دی چې بي بي عائشې (رض)، ابوسعيدخدري (رض) او مسلمه بن الاکوع (رض) را نقل کړی دی: (كلوا ودخروا و تصدقوا) يا (كلو واطعمو و ادخرو) (نيل الاوطار ٥ جلد ١٢٦ مخ).

د قربانۍ د غوښې د ذخيره کولو په هکله د رسول الله (ص) هغه حديث دليل دی چې بي بي عايشې (رض) روايت کړی او امام بخاري (رح) او مسلم (رح) رانقل کړی دی: (انما نهيتكم من اجل الدافة ، فكلوا وادخرو و تصدقوا) (متفق عليه).

د قربانۍ د څاروي پوستکی، وازده، پښې، سر او نور شيان خرڅول جواز نه لري او نه به يې قصاب ته په مزدورۍ کې ورکوي، که دا قرباني واجبه وي او که نفلي او دليل يې د رسول الله (ص) هغه حديث دی چې امام حاکم، امام احمد او امام بيهقي رانقل کړی، رسول الله (ص) فرمايي: (من باع جلد اضحية فلا اضحية له) او همدارنګه امام احمد (رح) د ابي سعيد (رض) روايت را نقل کړی چې رسول الله (ص) و فرمايل: (ولا تبيعوا لحوم الهدى الاضاحي) (نيل الاوطار: ٥ ج، ١٢٩ ص).

قصاب يا د غوښې جوړونکي ته به هم په مزدورۍ او اجرت کې د قربانۍ څه شی نه ورکوی، بلکې د خپل ځان څخه به هر څه ورکوي، سيدنا علي رضى الله دارنګه وايي: (امر رسول الله (ص) ان أقوم على بدنه، و ان أقسم جلودها و جلالها ولا اعطي الجازر شيئا منها و قال علي: نحن نعطيه من عندنا) (متفق عليه).

**د بل چا لپاره قرباني کول:**

د بل چا لپاره په قربانۍ کولو کې لاندې نظريات شتون لري:
الف: شافعيه وايي چې د بل چا لپاره قرباني په هغه صورت کې جواز لري چې کله هغه اجازه کړي وي او پرته له اجازې جواز نه لري، همدارنګه د مړي لپاره قرباني کول که وصيت يې کړی وي جواز لري، او که وصيت يې نه وي کړی جواز نه لري.

بله دا چې ټوله غوښه به په فقيرانو او غريبانو باندې تقسيموي خپله به يې هم نه خوري او مالدارو ته به يې هم نه ورکوي (مغني المحتاج: ۴ جلد ۲۹۲ مخ، المحلي المنهاج، ۴ جلد ۲۵۵ مخ).

ب: مالکيه وايي که مړي په خپل ژوندانه کې تعين کړی وي نو وارث به يې عملي کوي او که تعين يې نه وي کړی نو بيا قرباني کول د مړي لپاره مکروه ده ( الشرح الكبير: ۲ جلد، ۱۲۲ مخ).

ج: احناف او حنابله وايي چې د مړي لپاره قرباني کول جواز لري او ثواب يې مړي ته رسيږي، خوراک او صدقه دواړه يې جواز لري، خو احناف وايي چې که قرباني د مړي لپاره د هغه په حکم او امر سره شوی وي بيا يې قرباني کوونکي ته غوښه خوړل جواز نه لري (الدر المختار ۵ جلد، ۲۲۹ مخ، کشاف القناع: ۳ جلد ۱۸ مخ).

# The Essence of Sacrifice in Islam

Author: Khalid Siraj

While n the doorsteps of the month of Dhul Hijjah, I thought it appropriate to write about the concept of sacrifice in Islam. After all, the pillar of Hajj and almost all of its rituals can be traced directly to the sacrifice and devotion of our father Ibrahim (AS) for the sake of Allah ﷻ. Let us understand what sacrifice really means.

Definition

Sacrifice (التضحية) can concisely be defined as the exertion of one's energy, time or wealth for a greater and more worthy cause, while seeking the pleasure and reward of Allah ﷻ. It is synonymous with the terms devotion, extension and Jihaad (struggle).

Application of Sacrifice (1)

1. The first area of its application is sacrifice for the sake of religion, which is the foundation of sacrifice, and every sacrifice without it is in vain. Allah ﷻ has commanded us and urged us to sacrifice, in order to elevate the banner of His religion and support His law. Allah ﷻ has made a contract with the sacrificers which necessitates that the sacrificer gives himself and his wealth to his creator in return for:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ ۚ يُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ ۚ فَٱسْتَبْشِرُوا۟ بِبَيْعِكُمُ ٱلَّذِى بَايَعْتُم بِهِۦ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ

Allah ﷻ has indeed purchased from the believers their lives and wealth in exchange for Paradise. They fight in the cause of Allah ﷻ and kill or are killed. This is a true promise binding on Him in the Torah, the Gospel, and the Quran. And whose promise is truer than Allah's ﷻ? So rejoice in the exchange you have made with Him. That is ˹truly˺ the ultimate triumph (At Tawbah, 111).

Ibn Maajah narrated on the authority of Abu Hurairah RA that the prophet ﷺ said:

مَا مِنْ مَجْرُوحٍ يُجْرَحُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ - وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجْرَحُ فِي سَبِيلِهِ - إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ جُرِحَ وَاللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ

"There is no one who is wounded in the cause of Allah ﷻ – and Allah ﷻ knows best of who is wounded in His cause – but he will come on the Day of Resurrection with his wounds looking as they did on the day he was wounded; their color will be the color of blood but their smell will be the fragrance of musk."

To be continued.

# Lessons from the Battle of Badr – The Importance of Iman

Author: Liam D'Alquen

The Battle of Badr was the first major military confrontation between the Muslim community based out of Medina and the pagans of the Quraysh, and it is one of the most important battles in Muslim and human history. It is crucial due to the incredibly high stakes of the battle, exemplified in the dua of the Prophet ﷺ when he said, ""O Allah, accomplish for me what You have promised to me. O Allah, bring about what You have promised to me. O Allah, if this small band of Muslims is destroyed, You will not be worshipped on this earth." (Sahih Muslim, 1763). This dua shows that if the Muslims lost that day, then the Muslims of the time would have been destroyed, completely.




Knowing the high stakes of the battle, the Muslims set out to confront the Quraysh, who had been oppressing the Muslims for years at that point. The battle was one where the Muslims were incredibly outnumbered, the Muslim army numbering about 300 to 317, with different reports giving different numbers, while the army of the pagan Quraysh numbering about 1000 men. However, despite the large numbers of the Quraysh, the Muslims were able to score a great victory, breaking the ranks of the Quraysh and killing the hated Abu Jahl. So, how did they do it?

The Muslims were not armed with superior weaponry, nor were the Quraysh derelict of strong men to fight for them. However, the greatest weapon that the Muslims had was their iman itself. Iman here means faith, faith in Allah, faith in the religion of Islam and the absolute certainty that the cause of Islam is the truest cause in the world.

The Muslims marched into battle with the firm belief that they were fighting for the sake of God, that their cause was just and they had a clear mission to fulfill. In contrast, the Quraysh were fighting for worldly benefit and gain, many of them were hesitant to go into battle and merely wanted to put on a show that they were tough, without actually engaging in fighting!

The iman of the Muslims gave them the mental strength to face off against an army that was many times their size. This is where the example of the Muslims and their firm belief can be used as a model for any Muslim, including us living in the West, on how a strong iman and firm belief in Allah ﷻ can provide us with an enormous boost and advantage over others. Having a firm belief in Allah ﷻ, in the righteousness of your cause, can provide a man with immense bravery, focus and determination to accomplish their mission. At Badr, the mission of the Muslims was on the battlefield, giving them the morale and clarity of mind to engage the enemies of Islam in battle.

Here, living in the West, we are not engaged in a battle of swords or weapons. However, we must nonetheless rely on the lesson of the Muslims at Badr to know that the strength of iman is crucial to our success. We face numerous difficulties and trials in our life, whether it is material tests, tests of our commitment to the deen or problems with other people. From Badr, we can learn that as long as somebody has a strong iman, trusting in Allah and a belief that they are living their life for the sake of Allah, committing actions for the sake of Allah, then they could potentially overcome whatever trials come in their way.

Allah ﷻ reminds us in the ayah, "Verily, I am with you, so keep firm those who have believed" (Al-Anfal, 12). The example of Badr shows us that when facing difficulty, it is essential that above all, somebody maintains their faith in Allah ﷻ and has clear intentions. With a clear faith and cause, somebody is capable of overcoming enormous tribulations.

To be continued.

# د بېوزله لاسنيوى زمونږ ايماني مسؤوليت

د فقير او بېوزله لاسنيوى د هر غني مسلمان دنده ده، ځکه چې دا مال د الله تعالى له لوري پېرزو شوى مال دى او غريب د غني په مال کې حق لري او بايد ترلاسه يې کړي، الله جل جلاله فرمايي: { وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ * لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ*} [المعارج: 24 ، 25]

ژباړه: (او هغه کسان چې د دوى په مالونو کې معلومه برخه (مقرر) ده، د سوالگر او محروم لپاره).
که چېرې غني د فقير حق اداء نه کړي، نو د الله جل جلاله پروړاندې مسؤول دى او لوى خداى به ترې پوښتنه وکړي او بيا به په هماغه اندازه ورته سزا ورکړي.

دا چې زمونږ په ټولنه کې ډېرى داسې خلک شته چې هېڅ هم نلري او له ډېرو ستونزو او مشکلاتو سره لاس او گرېوان دي او بيا په ټولنه کې داسې وگړي هم شته چې د هېڅ شي کمى ورسره نشته او يوازې دا کمى ورسره شته چې د ولس او خلکو غم ورسره نه شته او يوازې په خپل غم کې ورک دى. که دى موړ وي نو ټول جهان ورته موړ ښکارېږي او که دى ستونزه ولري، نو ټوله نړۍ ستونزه لري، گل پاچا الفت صيب څومره ښه وايي:

نه ښايي انسان ته چې د بل په غم
غمجن نشي
يو کور کې چې وير وي او بل خاندي
له ليلا سره
اصل خبره داده چې مسلمان د مسلمان ورور دى، مسلمان به د مسلمان په خوشۍ خوشېږي او په غم به يې غمجن کېږي، او همدا د يوې سالمې او سوکاله ټولنې د وگړو نښه ده، که چېرې داسې ونه شي نو دا بيا سمه مسلماني نه ده، بلکې هسې خبرې دي چې انسان ځان پرې تېرباسي، د اسلام دين د خواږۍ دين دى، د تعاون او مرستې دين، يو بل سره د همکارۍ او همدردۍ دين دى، مخکې له دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په پيغمبرۍ مبعوث شي، په خپله ټولنه کې د يوه ښه همکار په توگه مطرح شخصيت ؤ، خلکو به ورته خپل امانتونه ايښودل او د خلکو ترمنځ د امين په لقب مشهور ؤ، د فقيرانو او بېوزله کسانو لاسنيوى به يې کاوه. خو کله چې په پيغمبرۍ باندې مبعوث کېږي، نو دا تراو نور هم زياتېږي او د خپل امت توجه او پاملرنه دې لور ته نوره هم قوي کوي: الله تعالى فرمايي: {...وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ...} [المائدة : 2]
ژباړه:(...له يو بل سره په نېکۍ او پرهېزگارۍ کې مدد کوئ او د گناه او ظلم په کار کې د يو بل مرسته مه کوئ...)

نو مسلمان بايد په نړۍوالو چارو کې له يو بل سره مرسته وکړي او د ستونزو پر مهال د يو بل لاسنيوى وکړي او د بدو چارو مخه ونيسي، دا ځکه چې اسلام تل نېکې چارې خوښوي او له بدو چارو څخه خپل پيروان منع کوي، اسلام د ښېگڼې دين دى، د خيرخواهۍ دين دى، همېشه خلک نېکۍ ته رابولي او له بدۍ څخه يې منع کوي.

داچې زمونږ ټولنه يوه بېوزله ټولنه ده نو لومړى خو زمونږ حکومت بايد ددې بېوزلو خلکو لاسنيوى وکړي او په دويم قدم زمونږ شتمن او بډاى وگړي بايد د خپلو مسلمانانو وروڼو لاسنيوى وکړي، ترڅو هغه څه ورته ورسېږي د کوم لپاره چې کار کوي او هغه ډېر قيمتي مال دى، چا چې هغه ترلاس کړ نو دا شخص تل کامياب شو او که چا ترلاسه نه کړ، نو بيا دى تل بدبخته دى او په بدبختۍ کې به ژوند تېروي چې هغه جنت دى. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((يا أيها الناس أفشوا السلام، وأطعموا الطعام، وصلوا الأرحام، وصلّوا بالليل والناس نيام، تدخلوا الجنة بسلام)). [ترمذى وابن ماجه واحمد و حاکم وصححه الألباني].

اى خلکو! سلام په خپل منځ کې خپور کړئ، خلکو ته خواړه ورکړئ، خپلوي وپالئ، او د شپې الله تعالى ته لمونځ وکړئ، په داسې حال کې چې خلک ويده وي، نو جنت ته به په پرته له حساب څخه داخل شئ.

اى مسلمانه! جنت ستا لپاره دى که چېرې دې خلکو ته سلام واچوه او هغوى سره دې په سوله کې ژوند وکړ، فقير او مسکين ته دې ډوډۍ ورکړه، او خپلوي دې وپالله او د شپې -په داسې حال که چې خلک ويده وي- لمونځ دې وکړ، نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل شې.

الفت صيب څومره ښه وايي:

که تا کېښوده د چا په سر گلونه
هېر به نه کړي هېڅوک ستا دا احسانونه
ستا نيالگي که وکړي سيورى په خوارانو
په عاجز او په غريب او يتيمانو
آخرت کې به همدغه ستا په کار شي
ستا هغه جهان به هم گل او گلزار شي

*******************
*******************

حیات فوندیشن و انسپایرد متعهد به ظرفیت سازی افغان‌ها ، کمک و تعاون به مستحقین، نهادینه سازی فرهنگ اسلامی و افغانی در بین فامیل های افغانی ، سهمگیری فعال در عرصه تعلیم و تربیت افغان‌ها میباشد.
در همین سلسله حیات فوندیشن ورکشاپ ظرفیت سازی و میکانیزم های ارایه خدمات بهتر و کمک به فامیل های برادران افغان که تازه به انگلستان آمده اند را دایر نمود











تماس با ما

media@hayatfoundation.org.uk
hayatfoundationuk
+44 7588 811824 - +44 7508 848893
www.hayatfoundation.org.uk



ماهنامه
حراء
Hera Monthly
میاشتنی
ماه نامهٔ تربیتی علمی و دینی